مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۹/۱۰

# کندهاری شاهرخ خان

عبدالله ابدالي په کندهارکي هغه پیژندل سوې هنري څیره ده، چي په یوازي سر څو کماله سرته رسولای سي

نوموړی پنځه دیرش کاله وړاندي د کندهار ښار د څلورمي ناحیې په یوه هنري کورنۍ کي سترګي دې دنیا ته رغړولي دي.

پلار یې کریم جان نومیږي، چي د کندهار له سپین ږیرو سندرغاړو څخه دی او زیات مینه وال یې له ږغ سره اشنا دي.

ابدالي له دولسم ټولګي فارغ، خو د اقتصادي ستونزو له امله تر دې ګړیه لوړي زده کړي ورڅخه پاته دي.

واده یې کړی، دري لوڼي او دوه زامن لري.

له تیرو لسو کالو راهیسي د تمثیل په ډګر کي خپل مینه وال په بیلا بیلو ډارمایي کردارډنو خوښ ساتي

تراوسه یې په سل راډیویي، ټلویزیوني او ستیج ډرامو کي رنګا رنګ کردارونه لوبولي دي.

د تمثیل ترڅنګ یې دوه سوه نوي او زاړه هندي فلمونه په کندهارکي د «پلار» په نامه یوشخصي پروډکشن ته ژباړلي او په دغو ژباړل سویو یادو فلمونو کي یې له یوشمیر اداکارانو سره ږغ دوبله کړی دی.

ممنون مقصودي، امیتابچن، شاهروخ خان، عامرخان او نصرالدین شاه یې د خوښي اداکاران دي.

په لومړي ځل یې هنري کار د کندهار له دولتي ټلویزیون سره د (خوړو او ترخو) په طنزیه خپرونه کي شروع کړ، چي خورا زیات لیدونکو خوښ او تر ډیره په هغه خپرونه کي پاته سو.

«په لومړي ځل مي د خوړو او ترخو په طنزیه خپرونه کي قدم کښېښود، بیا دنشیي توکو پر ضد په تیاتر کي ولوبیدم، دا تیاتر پر کندهار ولایت سربیره په نژدې ولایتونو کي هم خلکو ته وړاندي کیدی.

په هغه تیاتر کي ما د یوسپین ږیري رول لوبولی و، چي له هغه ځایه دغه رول د خلکو پر زړه ښه ولګیدی اود تیاتر ملګرو هم راته ویل، په دې کردار کي بریالی یې.

وروسته مو په کندهارکي د هیواد ټلویزیون، بیا شمشاد او ان ترخیبر ټلویزیون پوري مو هم ډرامي ورسیدې، چي دادی تراوسه په دې کار اخته یم.»

عبدالله ابدالي هر رول ښه لوبولای سي، خو د (بابک) او شاهرخ خان رولونه یې په کندهار او سویلي حوزه کي ډیر مشهور دي.

نوموړي دوه کاله په کندهارکي له یوې سیمه ییزي راډیو څخه د (بابک) په نامه د ټولني ستونزي راسپړلي او اوس بیا په یوه بله شخصي راډیو کي د (شاهرخ خان ) په نامه سندریزه خپرونه پر مخ بیایي، چي ډیر ځوانان یې ددې خپروني اورېدونکي دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

«د بابک په رول کې زما کردار د يو داسي سپين ږيري دی، چي اوريدونکو ته مشورې ورکوم او له دوی سره خپلې تجربې شريکوم.

اوس مي اکثره اوريدونکي د خپل نامه پرځای په بابک ترهرڅا ښه پيژني.

د دې ترڅنگ يوشمير فرهنگي ملگري او مينه وال راته وايي، چي د شاهرخ خان سره ښتا ږغ خورا ورته والی لري، نو ځکه د اکثرو فلمونو په دوبله کې زه د شاهرخ خان ږغ دوبله کوم.

اوس مې بيا په يوه راديو کي په همدې نامه يوه خپرونه هم راپيل کړې ده .»

د کندهار د وتلي ممثل عبدالله ابدالي مينه وال هم وايي، د ده له ږغ، تمثيل او د موضوعگانو له انتخاب سره ډيره مينه لري

دده د هنري ژوند دوو تنو مينه والو راته وويل، ډيره هڅه کوي، چي د ښاغلي ابدالي خپروني او ډرامي قضاء نه کړي

«اميد سمسور: له ډيرې وختنه د ابدالي صاحب د ږغ مينه وال يم، هغه وخت به ابدالي صاحب د بابک په ږغ کي ځوانانو ته نصحيتونه کول، چي تراوسه يې زما اکثره خبري په ياد دي او زړه مي غواړي، چي کاشکي يې تراوسه هغه خپرونه چلولای!!

فضلي: زما د ابدالي صاحب دواړه کردارونه خوښ دي، خو د شاهرخ انداز يې خورا په زړه پوري دی، زه يې دغه خپرونه اورم او ترڅنگ هغه فلمونه، چي دوی ږغ ورسره دوبله کړی، داسي ايسي، لکه په فلم کي، چي تصويرهم دده وي، ځکه ږغ او تصوير ډيرسره ورته دي او په اسانی څوک نه په پوهيږي، چي دادي دوبله وي .»

که څه هم عبدالله ابدالي د فلمونو په دوبله کي ډير پياوړی دی، خو له دولته هيله کوي، چي د افغان سريالانونو د جوړولو لپاره ورسره مرسته وکړي.

ابدالي وايي، په افغاني سريالانوکي کولای سي، چي د خپلې ټولني ستونزي د خپل کلتور په چوکاټ منعکسي کړي او په خبره يې، چي د باندنيو سريالونو، فلمونو او ډرامو ژباړه او دوبله چندان گټه نه لري.

د نوموړي په قول، د دولت ترڅنگ خپلواکو ټلويزيونونو او راډيوگانو ته په کار ده، چي د پردي کلتور د ترويج پرځای افغان ممثلانو ته وخت ورکړي، چي د خپلي ټولني ستونزي، لاسته راوړني او افغان کلتور خپلو خلکو ته په خپله ژبه وړاندي کړي.

دی وايي، پردۍ ډرامي، فلمونه او ترغربي سيوری لاندي اوږده سريالونه زموږ درد د دوا کولو پرځای لاپه ناسور بدلوي.

د کندهار د اطلاعاتو او فرهنگ رياست مسؤلين هم له ابدالي سره همږغي، خو وايي دامهال يې امکانات محدود او که چيري امکانات په لاس ورسي، نو په منل سويو افغاني سريالونو، ډرامو او فلمونو به د کندهاري ممثلينو تنده خامخا ماتوي.

د مسؤلينو په قول، په ربښتياهم باندنی ډرامي، سريالونه او فلمونه پردۍ کلتور ترويجوي.

ددوی په قول، د خپل مسؤليت له مخي يې هڅه داده، چي د خپلو افغان ممثلانو ملا وتړي، ترڅو په دې ملاتړ سره داسي هنري پنځوني رامنځته کړي، چي په ټولنه کي هراړخيز مثبت بدلون راولي

۲۰۱۷ جنوري ۷مه
کندهارښار، بينوا واټ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ